## د۲۰۲۶ کال د اگست ۱۵مه؛
## د افغانستان د خلکو د ژوند بیا ځلی تراژیدی

د ۲۰۲۱ کال د اگست ۱۵مه، د امریکا فاشیستی ښکیلاک، د هغه ښکیلاکی نړیوال ټلواله ناټو او د هغه فاسد مستعمراتی لاسپوڅی نظام د دوحې د ( ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۹مه) تړون له مخی، چې د فاشیستی امریکا او وحشی طالبانوترمنځ په دوحه کې د ذلیلزاد او ملا غنی تر منځ لاسلیک شوۍ و، مستعمراتی جمهوریت خپله واکمنی په ډیره چټکۍ د جهل او وحشت امارت ته بی ټکه پوکه ورپرېښوده او غنی له کابل نه پېښې سپکې ګړې په تېښته وتښتید.
یواځې د افغانستان زوریدلۍ ولس و، چې د ناڅرګنده راتلونکې په ډکر کې هک حیران د یوه فاسد، جنایتکاره مستعمراتی جمهوریت له ولکې را ووت او سمدلاسه د سلهاو کلو په شا تګ؛ د امارت ترنامه لاندی د جهل ، وحشت او بی قانونۍ کندې ته ور ټیل وهل شو. د دې له شرمه ډکه سیناریو په پلی کیدو زمونږ خلک په سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګی ژوند او برخلیک کې د وحشت او بربریت امارت تر ولکې لاندې راغلل او په دې توګه د تاریخ یوه تراژیکه کمیډی وه چې ولس یی له خپلو ټولو انسانی هیلو او ارزوګانو سره د ژوند قهقرا ته ولیږداوه او اوس د تاریخ ستره غمیزه کې د ژوند او انسانیت له هډماتوونکی ګواښ سره لاس او ګریوان دی.
د پنځو کلو په ترڅ کې د جمهوریت نیم ژواندۍ قانون ړنګ، او قرون وسطایی شریعت نافذ شو. د خلکو ژوند، سیاسی او مدنی حقوق، تعلیم، کار، د ښځو حقوق ( کار او تحصیل)، د بیان آزادی، قانونمداری . . . د طالبانی واکمنو د بی عدالتیو او وحشت په ډنډ کې ډوب شو. اوس زمونږ بیوزله خلک د بی وسی او ناهیلۍ تو رو تمبو تر شا، په چوپه خوله د تدریجی مرګ په غولی وروستۍ سا اوباسی. دا هرڅه په داسې حال کیږی چې د استبداد، وحشت، ظلم او تاوتریخوالی لړۍ، یوازې څېره بدله کړې له نیکتایي او دریشی نه واک ببرې ږیری او لنګوټی ته بدلون وموند، او انتحاری نظام د خلکو په واکمنی خپلې کرغیرنې منګولې خښې کړی!
امارت د پنځو کلو جهالت او وحشت د (ټوپک په زور) سوله ایز ژوند تر سیوری لاندې د افغانستان د خلکو پر ذهن او بدن د بېوزلی، وزګاری، مهاجرت، تبعیض، ډار او بېباوری وهم او تشویش لا ژور کړۍ؛ خو د دروغجنې میډیا د تورو وربڅو ترشا د امارتی وحشی نظام په غابښچېچی خپله سا نشی ویستی! په اقتصادي تنګسیا، بی علمی خفګان، نړیواله سیاسي انزوا، ټولنیز محدودیتونه، ملی او نړیواله کچه نانډرۍ او بدنامی، تحقیر او بیوزلی او د طالبانی جهل او خرافاتو د فتواګانو په جال کی لا ټینګ ونغاړل شول.

### د واک بدلونِ

دا یو څرګند حقیقت ده چې زمونږ هیواد او خلکو په سر او ژوند د امریکا استعماری ښکیلاک او مستعمراتی نظام عملا پایٔ ته ورسید؛ خو د استعمار په ختمیدو اوس طالبانی جاهل واکمن دا پلمه کوی چې «جګړه ختمه شوې»!؟ سوله واکمنه ده؛ خو دا جاری او ساری وحشت، تو کمیز تبعیض، د قدرت انحصار او د قانون نشتوالۍ د ټولنیزې بی عدالتۍ او زورواکی ژبی واکمنی، د مودې په تیریدو بلې جګړې او ناقرارۍ لپاره د بستر جوړیدو په حال کې ده. د هیواد په شمال ختیځ، جنوبی، لویدیځ ، مرکزی او شمال غربی سیمو کې دخلکو غبرګون، د دې بیعدالتیو او وحشت په وړاندې بربنډه او روښانه بیلګه ده ( دلته زمونږ هدف هغه وسله وال چې د شخصی ګټو په خاطرد خلکو بچیان د مرګ خولې ته ورکوی نه دی).
سوله هغه وخت بشپړه معنا پیدا کوي چې له امنیت سره بی توپیره عدالت مل وي، له سولې سره ازادي وي، او له جګړې نه په خلاصون د انسانی ژوند بی توپیره پراخ فرصتونه رامنځ ته شی. خو د طالبانو د جهالت په واکدارۍ کې فتوا او زور د قانون ځای ناستۍ ده. دا فتوا یا احکام چی د خلکو د ساتنې او دهغوۍ دحقوقو د ساتلو په ځاۍ د قدرت او خپلځانی واکمنی د ساتلو وسیله شوې؛ طبیعتا عدالت، ملی یو والۍ او وګړنیز ژوند په ټولنه کې خپل مفهوم له لاسه ورکړۍ چې دا تر ټولو خطرناکه د واک او جنون ناروغي ده؛ دا جنون د هر طالب او ملا په ذهن او فکر اوس حکومت کوی. خپلسري، د زور واکمنی د ټولنې د وګړو په ذهن کې دا باور او یقین پیاوړۍ کړۍ چې یواځې « حق لرل » بسنه نه کوی؛ بلکې د حق اخیستلو لپاره باید ټول زور، امکانات، واسطه یا قدرت په کار واچول شی ترڅو د ټولنې هروګړۍ د حق خاوند شی!


http://www.afghanpf.com : ویبسایت jaswrshja66@gmail.com - ks4920326@gmail.com - : ایمیل آدرس

په افغانستان کی اوس واک او عدالت د وحشی طالب په لاس کې ده، چې د خاصې ډلې موقف، قومی او ژبنی اړیکو لپاره یی کاروی او د ټولنی نور وګړی ورنه محروم دی. وایی چې«په تنګ شی نو په جنګ شی». خلک له حاکمه شرایطو په تنګ شوی دی، سرغړوني کوی یاغی کیږی؛ ورو ورو، د زور په وړاندی غبرګون رامنځ ته کوی. دا غبرګون سراسری کیږی؛ او په ملی غورځنګ بدلیږی، او د ملی آزادی، استقلال، ملی واکمنی او د ټولنیز عدالت د تامین په منظور، سراسری انقلاب ته لار پرانیزی. دهمدی دیالکتیک پر اساس ده چې د نړی په بیلا بیلو هیوادو کی سیاسی، اقتصادی، او بنسټیز بدلونونه او ستر بنیادی انقلابونه رامنځ ته شوی او دبشری ټولنو مقدرات یی له بیخه بدل کړی دی.

## ملی پراختیا او انکشافی پروژې

انکشافی پروژې هغه وخت خپل واقعی معنی پیدا کوی چی پرمختګ کې انسان او د ټولنی انسانی ژوند قرباني نه شي او د ښار اوسېدونکی پکې د خپل برابر حق او سوکالۍ احساس وکړي. که د یوې پروژې په نوم د جنګ ځپلی بې‌وسه انسانانو کور ورانیږي، او بدیل نه ورکول کیږی! د هغه اعتراض، قانوني حق غوښتنه، د خساراتو مناسب جبران او بدیل استوګنځي حق نه سترګې پټیږی او یا نه ورکول کیږي، نو دا پرمختګ نه ده؛ بلکې د پرمختګ په نوم یو ستر انسانی او ټولنیز ناوړین ده چې د طالبانی واکمنو له خوا د پنځو کلو واکمنۍ په بهیر کې په وحشیانه، بیرحمانه او ښکاره په بربنډ تبعیض او وحشت تر سره کیږی.
افغانستان د ځوان نفوس او پراخ انساني استعداد له پلوه بډای هېواد دی؛ که دغه نسل ته د زده کړې، کار او مشارکت فرصتونه بابر نشی، د ځوانانو انرژی او وړتیا د وزګارۍ، بیکاری، محرومیت او ناهیلۍ تر سیوری لاندې ضایع کیږی او د هیواد په راتلونکی جوړښت او رغونه کې به ترې ګټه وانخستل شی. د طالبانو د تیرو پنځو کلو په موده تو کمیز تبعیضی سیاستونه په ځانګړی ډول د ژبې، قوم او جنسیت پر بنسټ چلند د ځوانانو په ژوند ژورې منفی آغیزی کړی دی ، اقتصادی رکود، سیاسی انحصار ددې سبب شوی چې ډیرۍ ځوانان وطن پریږدی او د همدې توکمیز سیاست په دوام نور ځوانان هم په دی لټه او هڅه دی چې له دی غمځپلی طالبانی واکمنۍ څخه د خلاصون لاری او ګودر پیدا کړی. دا د نورو تراژیدیو تر څنګ یوه بله انسانی ضایعه ده چې زمونږ ټولنه یی له یوی سترې ټولنیزه غمیزې سره مخامخ کړی ده.
افغانستان د ژبو، قومونو او فرهنګونو ګډ کور دی. پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه‌یي، نورستاني او نورې ژبې د دې خاورې د فرهنګي شتمنۍ ستره برخه جوړوی چې په ډیره مینه باید وپالل شی. د یوې ژبې سپکاوی د ټول قوم سپکاوی دی؛ او د یوه قوم سپکاوی د ټول ملت د سپکاوی معنا لري. د جهالت په ګدۍ ناست جاهل طالبان باید په دې خپل سر خلاص کړی چې یو هیواد هغه وخت پیاوړی کیږي چې پکې د هر انسان هویت ته په ټوله معنی درناوی وشي، نه دا چې ژبه او قوم د امتیاز یا د محرومیت معیار وګرځول شي.
افغانستان د یوه قوم ملکیت نه دی؛ د ټولو افغانانو ګډ کور دی. هره هغه کرغیړنه پالیسي که د طالب لخوا اویا بلچا له خوا وی چې پکې د ژبې، قوم، سیمې یا هویت پر بنسټ د خلکو ترمنځ کرښې ګاږی او د کم‌ارزښتۍ احساس پیدا کوي، هغه کسان چې هرڅوک وی زمونږ د ټولنې د ملی یووالي او ټولنیز ژوند ستر دښمن دي. زمونږ په ټولنه کی هیڅ لګه کیَ یا اقلیت، ډیره کۍ یا اکثریت نشته؛ ټول ولس برابر حق لری، یواځې پوهه او علم ده چې د ولس ترمنځ د کاری موقف په لحاظ وظایف بیلوی؛ هیڅ څوک باید د خپل هویت، مذهب، ژبې یا توکم له امله په ټولنیز ژوند کې د محرومیت احساس ونه کوي. په افغانستان کې عدالت هغه وخت معنی پیدا کوی چې پکې د «خپل» او «پردي» په نوم کوم خاص معیار وجود ونه لري. ځکه ټول ولس د قانون په رڼا کی مساوی او برابر حقوق لری.

## ښځې او نجوني

د یوې ټولنې نیم نفوس چې له زده کړې، کار او عامه ژوند او ټولنیزه ونډې څخه محروم شي، هغه واکمنی او سیاست سالمه او دعدالت پر بنسټ ولاړ سیاست او ټولنه نده. قرون وسطایی وحشی طالبانو د پنځو کلو په ترڅ کې زمونږ په ټولنه کې یواځې د ښځو فرصتونه له منځه وړې ندی؛ بلکه د افغانی ټولنې یوه ستره اقتصادي، علمي او انساني ظرفیت او ملی پانګه یی د واک له ګدۍ بی برخی او له سترګو غورځولی ده. د طالبانو دجاهلیت واکمنی او قرون وسطایی تفکراو لید په لحاظ، د نجونو د تعلیم دروازې تړل، ښځو د کار حق له منځه وړل، ټولننیر اقتصادی او سیاسی مشارکت (ګډون )څخه د هغوۍ بیرون ویستل، د یوې سترې نمګړتیا او خلا په څیر زمونږ ټولنه سیاسی، اقتصادی او ټولنیز پرمختګ له ستر ګواښ سره مخ کړی ده. په روحی لحاظ یی د ماشومانو په راتلونکی ستر دردونکی روحی اثرغورځولیَ ده.په افغانستان کې ښځه دټولنې له نیمی نه زیاته برخه لری، چې د طالبانی وحشیانه


ایمیل آدرس : - ks4920326@gmail.com - jaswrshja66@gmail.com ویبسایټ : http://www.afghanpf.com

واکمنۍ په ترڅ کې داستره اغیز منه برخه د ټولنې د تولیدي او ټولنیزڅرخ نه د وزګارۍ په لورغورځولی چې په دې توګه زمونږ ټولنه یی هم په ترکیبی لحاظ هم په حقوقی لحاظ هم په انسانی لحاظ ډیره ناقصه او زیانمنه کړې ده. دا تر ټولو خطرناک بحران؛ د امید مړینه، فقر، وزګاري او مهاجرت جدي ستونزې یی رامنځ ته کړې دی. خو له دې ټولو خطرناک شی دا ده چې په ټولنه کې د امید او هیلو راتونکې له منځه یوورل شي. ساده خبره ده کله چې یوه کورنی د زده کړې له فرصتو نه محروم شی نو خامخا اړ کیږی چې د خپلوبچیانو خاصتا د نجونو دزده کړې لپاره لازمه شرایط بلچیرې ولټوی او بل ځای ته لاړ شی. نو مهاجرت ته مخه کوی. یو ملت یوازې په ډوډی ژوندي نه پاتې کیږي؛ بلکه دهغه انسانی کرامت ته درناوی، په ټولنیز ژوند کې د یو انسان په څیر برابرعدالت، او روښانه ژوند راتلونکې ته امید او باور ته هم پوره اړتیا لري. خو دا مهمه موضوع طالبانی واکمنو ته هیڅ معنی نلری.

## نتیجه

په یوه ټولنه کې د واک ترلاسه کول یوازې د واکمنۍ بدلول نه دي. اصلي بدلون هغه ده چې مدنی قانون د فتوا او زور په ځای واکمن شي، ټولنیزعدالت د قوم، ژبې او توکم له کچې راووځی، او د ټولنې په سیاسی قدرت او واک کې د ټولو وګړو انسانی عزت او منزلت خوندی وساتل شی. کور دهر انسان خوندي حق وبلل شي، ځوان ( ښځه او نر) ته د کار او زده‌کړې برابرحق او امتیاز دروازه بی تبعیضه پرانیستل شي، ښځې او نجونې په ټولو چارو کې د ټولنې بشپړ غړي وبلل شي، قومي او ژبني تنوع د ګواښ پر ځای ستره ارزښناکه شتمني وګڼل شي؛ د وګړو د کور حریم له تعرض څخه خوندي شي. دانسان حقوقوته درناوی، بی توپیره عادلانه سلوک ، دانسانی حقونو رعایت، عزت ته درناوی، انسانی کرامت او ساتنه د هرې واکمنې اداري مسؤلیت ده نه په زور، وحشت او استبداد!
د افغانستان د ټولنې اوسنی بحران یوازې د یوه سیاسي بدلون مسئله نه ده؛ زمونږ ملت لمړی باید دې پوهاوی ته ورسیږی چې وکولای آګاهانه د خپلوانسانی اساسی حقوقو د ترلاسه کولو په خاطرلمړۍ له وېرې او ډار حالت څخه راووځی. بیا بی تبعیضه اوبی توپیره ملی ګډ مشارکت کې، د حق غوښتنې غږ د همغږۍ په عملی ګامونو پورته کړی. دا مهم کار هغه وخت شونۍ او خپله آغیزمنتیا موندلۍ شی چې د ټولنی په دې ملی پاڅون کی ټول وزګار، خواریکښ، بزګران، کارګران، کسبه کاران او د ټیټې طبقی منسوبین که نارینه دې که ښځینه لاس په لاس یو دبل قوی ملاتړ شی او د یو روښانه لید لوری په درلودو په یو مخکښ ملی انقلابی غورځنګ بدل شی. دلته ده چې د ټولنیز بدلون اغیزمن اساسی زواک رامنځ کیږی؛ په دې حالت کې نا‌امیدی او ناهیلی خپل ځاۍ، روښانه راتلونکی اوانسانی ټولنې د جوړیدو لپاره د ملی انقلاب د ترسره کیدو په ترڅ کې یوآزاد، آباد ځپلواک، بی توپیره او بی تبعضه افغانستان کې رامنځ ته کولاۍ شی. په همدې هیله!

**۱۵ د اګست، زمونږ د ولس په سرنوشت د طالبانی وحشت او استبداد ناولی ورځ ده!**
**علمی پوهاوی او ملی یووالۍ کولاۍ شی زمونږمظلوم ولس له طالبانی وحشت نه خلاص کړی!**
**ژوندی دې وی د افغانستان ټول خواریکښ خلک!**
**ترڅو چې ښځو ته ټولنیزو چارو وې پوره برخه ورنکړل شی هغه ټولنه نیمګړی ده!**

لیکوال: کلیوال آشنا
د ۲۰۲۶ کال د اګست ۱۴
کمیته فرهنگی جبهه مردم افغانستان «جما»


http://www.afghanpf.com : ویبسایټ jaswrshja66@gmail.com - ks4920326@gmail.com - : ایمیل آدرس